مطبوعاتي اعلامیه

## د نړیوالې ټولنې د پالیسیو پیروۍ او د بازار اقتصادي نظام پلي کولو په افغانستان کې فقر زیات کړی دی

د ملي احصایې او معلوماتو د ملي ادارې د نوي راپور پر بنسټ؛ د افغانستان له نیم نفوس څخه ډېر چې شمېر یې اتلس ملیونونو ته رسیږي، په «هراړخیز یا څو اړخیز» فقر کې ژوند کوي.

موږ د فقر زیاتوالی د بازار اقتصادي نظام پلي کېدل او د نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه د نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او د نړیوالې سوداګرۍ سازمان له پالیسیو څخه د ړندې پیروۍ او یادو بنسټونو ته د افغانستان دولت د ژمنتیا پایله ګڼو. ځکه په دې وروستیو کې نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د خصوصي سکتور په رشد او مالیاتي اصلاحاتو باندې تمرکز کړی او د افغانستان دولت هم د دغو بنسټونو په وروستیو راپورونو کې ځینې پرمختګونه درلودلي او د هغوی د تشویق وړ ګرځېدلی دی.

همداراز د افغانستان دولت د دغو بنسټونو په دیکته ډول-ډول مالیې لکه؛ پر سوداګرو او صنعتکارانو د درنو مالیو وضع کول، پر وارداتو باندې د ګمرکي تعرفو درې برابره کول او پر ټېلیفوني مکالمو باندې د مالیو وضع کولو ته مخه کړې چې ټولو پورتنیو مواردو د افغانانو ژوند له ستونزو سره مخ کړی او د فقر، بې کارۍ او جنایي جرمونو د زیاتوالي سبب شوی دی.

په حقیقت کې د افغانستان دولت د خلکو د اساسي اړتیاوو په پوره کولو کې پاتې راغلی او د خلکو په دسترخوان کې د بدلون او ښه والي شعارونه غلط ثابت شوي؛ ځکه د دولت لومړیتوب د نړیوالو موسسو رضایت او د هغوی د پالیسیو پلي کول دي، نه د افغانستان د خلکو ستونزو ته رسېدل او د هغوی په ژوند کې بدلون راوستل. د دغه وضعیت په پایله کې فقر زیات شوی او د امریکا او ناټو د نیابتي جګړې د پرمخ بېولو لپاره یې د سرتېرو موندنې بیه بې ساري ارزانه کړې ده.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**